# په افغانستان کی د زلزلو پیښني

لیکونکی: د جیوفزیک انجینر محمدربی آماج

د ۲۰۲۵ کال د اګست په ۳۱ نیټه د افغانستان د هندوکش غرونو په سیمه کې د جلال آباد ښارپه ۲۸ کیلومتری کی د کنړ ولایت د کوز کنړ ولسوالی کی د ریختر په کچه۶ درجی زلزله رامنځته شوه او دهمدی میاشتی تر لسمی نیټی پوری یی لس نور ټکانونه هم پیښ شول چی وروستنی ټکان یی د ریختر په کچه ۵.۲ درجی وو. امریکا د جیولوجیکی څیړنو اداری USGS د موندنو له مخی د نوموړی زلزلی لومړنی راپور د زلزلی د اپیی سنتر (مرکز کوردینات (34.519°N 70.734°E) او ژوروالی یی ۸ کیلومتره ښودل شویدی مګر دهمدی اداری د تخنیکی راپور له مخی د زلزلی د مرکز ژوروالی ۱۱.۵ کیلومتره او څواک یی هماغه د ریختر په کچه ۶ درجی ښودل شویدی. د ځایی او نړیوالو رسنیو د راپوررونو پربنسټ د نوموړی مرګونی زلزلی ځانی او مالی زیانونه داسی راپور شویدی: انسانی مړینه ۲۲۰۵ کسان، ټپیان ۳۶۴۰ کسان او د مالی زیان کچه ۷۰۰۰ کوروونه په بشپړه توګه یا قسما ویجاړ شویدی،په افغانستان کی د کورنیو د منځنۍ کچی (۷-۸ کسان په کورنۍ باندی (۱*)) په نظر کی نیولوسره د ټولو زیانمن شویو کسانو شمیر د ۴۹ او ۵۶ زرو کسانو تر منځ اټکل کیږی. د څاورویو مړینه،سړکونو، پلونو، پلچکونو اونورو ټولګټو تاسیساتو د ورانۍ کچه تر اوسه نده محاسبه شوی. د زلزلی ځپلی سیمی سختی غرنۍ جغرافیی ته په کتوممکن دغه پورته ذکر شوی شمیری تغیر وخوری څکه زیاتره کلی په لوړو غرنیو سیمو کی پراته دی او د ورتګ لاری یی ډیری سختی دی چی له پلی تګ پرته نوری وسیلی ورتللی نشی، په ځینو ځایونو کی د ژغورنی ډلی له چورلکو دیسانت شویدی.

له ۲۰۲۲ کال راهیسی تر اوسه افغانستان د دریوځواکمنو اوخونړیو زلزلو شاهد دی.

- په ۲۰۲۳ کال کې هرات ولایت کې د ریختر په کچه ۶.۳ درجې زلزله چې د هرات ښار څخه ۴۰ کیلومتره لیرې د زنده جان ولسوالۍ کی پیښنه شوه .د نوموړی زلزلې څواک کې د ځمکې لاندې فشار له امله رامنځته شوې د همدې کال اکتوبر په۷، ۱۱ او۱۵ باندی د زلزلې درې نوری لوی ټکانونه هم د هرات ولایت په همدی سیمه کی پیښ شویدی.

د دې زلزلې له امله لږ تر لږه ۱۴۸۹ کسان شهیدان او تر ۲۷۴۴ پورې نور ټپیان شوي دي . د دې پېښې په ترڅ کې، شاوخوا ۱۰۰،۰۰۰ کسان اغېزمن شوي او د ۱۱۴،۰۰۰ کسانو لپاره بشري مرستې ته اړتیا وه .

- د ۲۰۲۲ کال د جون په ۲۲مه (۱ سرطان ۱۴۰۱) د سهار په وخت په پکتیکا ولایت کې او د ۶.۱ درجې په شدت یوه زلزله رامنځته شوه.نوموړی زلزلی د ګیان، نکه، برمل او زیروک ولسوالۍ ډیر وځپلی، د امریکا د جیولوژیکي څېړنو ادارې (USGS) د راپور له مخې، د دې زلزلې مرکز د ځمکې له سطحې څخه ۵۱ کیلومتره ژور وو . د نوموړی زلزلی له کبله ۱۰۰۰کسان شهیدان،۱۵۰۰ ټپیان او ۲۵ کلی په بشپړه توګه وران شول.
په لاندی جدول کی د افغانستان د زلزلو کرونولوژی ذکر شویده:

**د افغانستا د زلزلو کرونولوژی(۲*)**

| مالی زیان (کورونه)نور | ټپیان | مړینه | ژوروالي /Km نوعیت | ځواک ریختر/ Mw | موقیعت/نوعیت | نیټه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 5412 | 3394 | 1457 | 8 سرچپه | Mw 6.0 | 34.419N,70.734E کنړ | 31/09/2025 |
| ورک کسان 516، وران کورونه 21500 | 2000 | 2245 | 10.6-14 | Mw 6.3 | 34.610N.61.924E زنده جان/هرات | 15/10/2023 |
| وران کورونه 655 | 80 | 10 | 178 | Mw 6.5 | (جرم)/بدخشان 36.532N,70,979E | 23/03/2023 |
| Not reported | 2422 | 505 | 210 | Mw 7.5 | 36.441N,70.717Eی مګان بدخشاند ناصر خسرو زیارت ۶کیلومتری جنوب لویدیځ | 26.10/2015 |
| - | 5 | 28 | 18.8 | Mw 5.3 | 34.946N,63.580E بادغیس د ترکمنستان پولی ته څېرمه | 21/01/2022 |
| - | 1600 - 3000 - | 1143 | .0 10کسل | Mw 6.2 | 33.093N,69.514E) سپیره) خوست | 22/06/2022 |
| OCHA | 538 | 115 | 231 USGS | Mw7.5 | 36.524N,70.368E (درایم) بدخشان | 16/10/2015 |
| | | 150 | 10 | Mw4.1 | 34.4118N,70.1461E | 4/8/2015 |
| وران کورونه 345 | 130 | 18 | 61 | Mw 5.6 | 34.508177N,70.163 28 لغمان11km form city | 24/04/2013 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| nil | nil | nil | 219 | Mw 5.5 | 36.63N,71.03E (بهارک) بدخشان | 7/11/2011 |
| nil | nil | nil | 10 | Mw 5.4 | 35.83N,67.49Eسمنگ ان (دمکی،دره صوف) | 18/04/2010 |
| nil | nil | 22+ | 5.9 | Mw 5.5 | 34.19N,70.08E (سپین غر) ننگرهار | 16/04/2009 |
| - | - | - | 185.9 | Mw 6.2 | 36.52N,70.82Eیمگ) ان) بدخشان | 22/10/2009 |
| وران کورونه 100 | 1 | 5 | 223.6 | Mw6.5 | 36.357N,71.093E (زیباک) بدخشان | 12/12/2005 |
| مځکه ښوییدنه وران کورونه 160 | 150 | 50 | 7 سرچپه | Mw 5.9 | 35.959N,69.417E (نهرین) بغلان | 12/04/2002 |
| وران شوی 300کورونه | | 16 | سرچپه 204.9 | Mw 7.3 | 36.502N,70.482E (ارغنجخوا) بدخشان | 3/03/2002 |
| - | - | - | 8.0 سرچپه | Mw 6.1 | 36.062N,69.315E (نهرین) بغلان | 25/03/2002 |
| 14000 بی کوره نړیدلی7000 | 500 | 70 | امتدادی لغزش 36.7 | Mw 6.0 | 34.259N,69.364E لوگر مس عینک ته نیږدی | 11/02/1999 |
| - | 818 | 2323 | د طبقو 31 ښوییدل | Mw5.9 | 37.075N,70.089E د تخار رستاق او بدخشان کشم پوله | 4/02/1998 |
| 45000 بی کوره شوی | 1935 | 4000 | 34.3 | Mw 6.5 | 37.106N,70.11E شهر بزرگ بدخشان | 30/5/1998 |
| nil | 250 | 11 | سرچپه 112.3 | Mw 5.8 | 35.121N,70.486E نورستان (ګده لام/منډول) | 25/10/1990 |
| مخکه ښوییدنه | 38 | 5 | 98 سرچپه | 7.4 | 36.19N,70.896E بدخشان (کران ومنجان) | 29/07/1985 |
| کورونه 8094 / مځکه ښوییدنه | 3000 | 500 | سرچپه 36.5-36 | Mw 6.4 | 36.148N،69.01E /تخار | 15/12/1982 |
| ندی مالوم | 483 | 12 | سرچپه 214.7 | Mw7.4 | 36.372N,70.738E یمګان/بدخشان | 30/12/1983 |
| 1317 کورونه او مځکه ښویدنه | 59 | 49 | *ARI 33 USGS4.7 | Mb 6.5 | 36.607N،67.785E سمنګان | 19/03/1976 |
| ندی مالوم | 15 | 11 | 27.4-47 | Ms 6.1 | 36.2Nو69.7E اشکمش/تخار | 24/06/1972 |
| مخکه ښوییدنه | 2000 | 900-300 | 60-35 | Mw 7.6 | (اندراب) بغلان 35.01N،67.5E | 9/06/1956 |
| - | - | 500 | - | Ms 7.5 | 34.4N,70.5E جلال آباد | 19/02/1842 |
| - | - | - | 240 | Mw7.8 | جرم /بدخشان | 30/05/1935 |
| د فیض اباد ښار جنوب لویدیځ ۹ کیلومتری | | | | Mw 7.5 | 36.8N,66.2E بدخشان (کران ومنجان) | 15/05/1818 |
| فرهنگ کابل باستان غزیرالدین وکیلی | | | | 7-8؟ | 34.5N,39.1E | 1505/0/0 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | کابل( پغمان) | | د ظهيرالدين بابر ليكنه |
| ه،ق848/234ز | اوسنۍ بغلان | | مسلمان تاريخ ليكونكو(طبرى،بيهقى) ورپسى البيرونى(الاثارالباقيه والقانون مسعودى) په علمي توگه د زلزلو ذكر كړيدى. |
| 819 | د بلخ زلزله 36.4N,35.4E | 7.4 | د زياتو ورانيو د ياودولوپه بنسټ |
| 949-1364 | 34.4N,62.2E ،34.3N,62.2E هرات 34.9N,61.7E | 5.8-5.3 | د ټيټې درجې تخريب يې درلود |
| 1102 | غور او هرات | 5.3 | البيرونى ليكلى، ځنى كلى وران شويدى |
| 1842 | بدخشان 35.0N,71.0E | 7.5 | انگيسى سرتيرو يې يادون كړيدى |
| 1892 | كندز؟ او تخار | | روسى سرچينو يې يادون كړيدى |
| 7/07/1909 | بدخشان (يمگان) 36.5N,70.5E | 7.5 | 230 km ژوره ، تر1000زيات كسان وژل شويدى |

**شننه او ارزونه:** لدی پورته جدول اونقشی څخه دا جوتيږی چی افغانستان د زلزلو له اړخه ډيرفعال او دالپايد زلزلی کمربند په سرپروت دی.د افغانستان په جغرافيه کی د هند نيمی وچی تکتونيکی پليټ(تخته) د يوراسيا د تختی سره په ټکر (collision)او پدی تختی کی ننوزی او زياتره زلزلی هم د هند نيمی وچی د پليټ د ننوتو په سيمه کی پيښيږی.

دلته د دی خبری يادول اړين بريښی چی وويل شی: د افغانستان جغرافيه د دريو لويو تکتونيکی پليټونو( د هند نيمی وچی ، د يوراسياو د عربی سمندر پليټو) د ټکر (collision) سيمه ده ، پدی ترتيب سره چی د هند نيمی وچی پليټ د جنوب لويديځ څخه د شمال ختيځ په لوری حرکت لری،د يوراسيا پليټ بيا د نوموړی پليټ په مخالف لوری خوځښت لری او د عرب سمندر پليټ د شمال په لوری خوځي. دنومړو پليټونود خوځښتونو په پايله کی د افغانستان جغرافيه کی ډيری ژوری ګوډی ماتي او درځونه (Fault) منځته راغلی دی چی د همدی ژورو ماتو او درځونو په سرد افغانستان د زلزلو مرکزونه پراته دی، د يوه بل ټکی يادون هم اړين دی اوهغه دا چی د هند نيمی وچی تکتونيکی پليټ د بدخشان په حيصه (افغنستان،پاکستان کشمير،چين او تاجکستان) کی د يوارسيا له تکتونيکی پليټ سره د مځکی په ژورو کی په ټکرکی دی او ډيره لويه ژوور/ درځ يا ماته (Fault) يی رامنځته کړيده چی له تاجکستان څخه شروع له ټول افغانستان څخه تيريږی او د هرات څخه بيا ايران ته داخليږی نوموړی ژوره ماته د افغانستان د زلزلو خطونه په دوو (شمالی او جنوبی ) برخو ويشی بله ځانګړنه يی دا ده چی د همدی ژوری ماتی دزلزلومرکزونه (ايپی سنټر) په بدخشان کی ژور او د هرات کی سطحی دی . پهمدی توګه د نوموړی ژوری (Fault)

شمال ته پراته د زلزلو خطونه له ختیځ نه لویدیځ لوری او له جنوبی اړخ ته پراته خطونه د شمال ختیځ څخه د جنوب لویدیځ په لوری پراته دی.
په لنډه توګه د افغانستان په جغرافیه کی د زلزلو دغه خطونه وجود لری:

**۱-د مرکزی بدخشان خط:** نوموړی زلزله لرونکی خط دافغانستان له شمال څخه شروع د کابل له شمال څخه تیریږی،تر دی وروسته بیا د هریرود پنامه یادیږی او دهرات څخه ایران ته غځیږی.پهمدی ترتیب له نوموړی خط څخه په هرات کی یوبل فرعی خط(کجرود) جنوب لویدیځ ته جدا کیږی چی هغه هم ایران ته غځیږی.د نوموړی زلزله لرونکی خط په اوږدو کی د افغانستان ۴۴٪ سلنه زلزلی پیښی شویدی لدی ډلی د ټولو زلزلو ۷۰.۵۹ ٪ په بدخشان او ۲۹.۴۱٪ یی په هرات پیښی شویدی. په بدخشان کی د همدی زلزلو د اپی سینټر (مرکز) بیا ډیر ژور(۱۷۸-۲۴۰) کیلومترو تر منځ دی، د نوموړی خط زلزلی ځواکمنی(۵.۵-۷.۸) ریختر پوری وی څرنګه چی مرکزونه یی ډیر ژور وی نو تخریب یی ډیر نه وی او پراخه سیمه لړزوی مګرپه هرات کی یی زلزلی سطحی دی د ۱۰ کیلومترو ژوروالی لری او دزلزلو ځواک یی هم د (۵.۳-۶.۳)ریختر تر منځ دی خو مرګونی او ویجاړوونکی وی.

**۲- د درواز او هنجوان (Henjvan) خط:**دا یو مستقل زلزله لرونکی خط دی چی له مرکزی بدخشان سره موازی پروت دی اوله تخارڅخه تاجکستان ته غځیدلیدی د نوموړی خط د زلزلو ځانګړنه د هغوی د ایپسنټرپه سطحی کیدلو(۳۶-۲۷.۷ کیلومتره ژوروالی) کی رانغښتل کیږی زلزلی یی ځواکمنی،مرګونی او پراخه ویجاړی لری.

**۳-د اندراب خط:** نوموړی خط هم د زلزلو له اړخه فعال دی د نوموړی خط په اوږدو باندی د هیواد ۳٪ زلزلی پیښی شویدی،زلزلی یی سطحی د مرکز ژوروالی یی(۸-۴۰) کیلومترو او ځواک یی (۵.۹-۶.۱) ریختر پوری دی.

**۴-د کنړ او سپین غر کمربندونه:** دا دوه بیل زلزله لرونکی کمربندونه دی، د کنړ کمربند د همدی ولایت د لویدیځ څخه د شمال ختیځ په لوری د ډیورند له کرښی ایخوا غځیدلی زلزلی یی سطحی (۸کیلومتره) او پیاوړي (۶.۲ ریختر) دی.همدا راز په ننګرهار کی دسپین غر زلزله لرونکی کمربند د نوموړی ولایت له لویدیځ څخه دختیځ په لوری غځیدلی او د ډیورنډ له کرښي ایخوا ته وتلی دی نوموړی کمربند هم ډیرفعال دی او زلزلی یی سطحی دی دغه دواړه کمربندونه د پورته جدول ۸.۵۷٪ زلزلی په بر کی نیسی چی زلزلی یی سطحی او ځواکمنی (۵.۵-۶.۲ ریختر) دی. د اګست د ۳۱ د زلزلې شمال ته، یوه فعاله زلزلهخیزه سیمه شته چې ټولې یادې شوې د ۷ کچې زلزلې پکې شوې دي او معمولاً په منځنیو یا ژورو (له

۱۰۰ کیلومترو ډېر) کې کېږي. دا ډول زلزلې ډېر امکان لري چې د هند تختې په ننوتو (subducted)برخه کې پېښېږي. هغه زلزلې چې په سطحې (کمې) ژوروالي کې کېږي، د یوریشیا په تخته کې رامنځته کېږي. د سیمې د ودانیو د جوړولو د سبک له مخې، دا ډولې زلزلې د پراخو ویجاړیو سبب کېدای شي.

**۵-د پنجشیر-ګردیز -چمن زلزله ایز خط:** نوموړی زلزله ای کرښه د مرکزی بدخشان-هریرود له اصلی کرښی د ختیځ لوری ته بیله اود جنوب لولدیځ لوری ته غځیږی او د کندهار په ولایت کی د ډیورنډ کرښی سره موازی روانه او بلوچستان کی ادامه مومی د نوموړی خط ته هم د لوګر او خوست زلزلی نسبت ورکول کیدئ شی چی زلزلی یی سطحی او ځواک یی ۶ریختر (منځنی کچه) دئ.

**۶- پغمان- مقر زلزله ای خط:** نوموړی کرښه د کابل ښار په شمال (پغمان) کی د هریرود له ژوری کرښي د جنوب لویدیځ لوری ته جداکیږی د مخکینیو تکتونیکی څیړنو پر بنسټ د پغمان په غرونو کی دری دزلزلی مرکزونه تثبیت شویدی.نوموړی زلزلی هم سطحی مګر ځواکمنی دی له همدی امله په کابل ښار کی د زلزلی په وړاندی د ساختمانو ټینګښت (مقاومت) د ریختر تر ۸ درجو پوری قانونی شویدی.

**۷- د مرکزی بدخشان-هریرود** له زلزله ای کرښی د شمال لوری ته د زلزلی څلورنورخطونه وجودلری چی د بند ترکستان،دوشی میرزاوالن،اندراب او البرز- مارمول (بلخ) پنامه یادیږی ،لدی جملی د بلخ اوسمنګانو زلزلی د دورانی زلزلو له ډلی دی چی سطحی او د منځنی کچی (۵.۶-۷ ریختر) زلزلی لری. **د پورته ارزونی لپاره لاندی نقشی ته مراجعه وکړی.**




**د زلزلی له ناورین سره مقابله**

- زلزله د نورو طبعی آفتونو برخلاف د وړاند ویینی وړ نده، د سترګو په رپ او څو ثانیو کی پېښیږی، لوی ناورین اوپراخه ویجاړی منځته راوړی. لکه همدا د کنړ اوسنۍ زلزله

چې تر ۱۰ د سپتمبر پوری یی لس ټکانونه پیښ شویدی او وروستنی ټکان یی ۵.۲ ریختر اندازه شویدی. د نوموړی زلزلی د انسانی زیان او ویجاړی شمیری د مقالی په سر کی لیکل شویدی. دلته به لومړی د افغانانو او نړیوالو غبرګون او ورپسی به د زلزلی په وړاندی د مخکینیو لارو چارو څیرنه اوبیا وړاندیزونه ورکړل شی.

- تر اوسه پوری د زلزلی ځپلو د بیا رغولو په پار لاندی مرستی تر سره او وعده شویدی.

| بسپنه ورکونکی | دبسپنی کچه | | توله بسپنه$ |
|---|---|---|---|
| | | معادل یی $ | |
| افغان کورنی او بیرونی پانګوال17 | 1222350000 ؋ | 17907266,33$ | 1,8817,266.13$ |
| | -0- | 910,000 $ | |
| بهرمیشتی افغانی ټولنی /انفرادی اشخاص 27 | -0- | 345,217.54$ | 345,217.54$ |
| د پیښور زلمو کریکیټ کلب مالک 1 | Rs.10,000,000 | $35,228.63 | 35,228.63 |
| هیوادونه ملګری ملتونه ټولنی 16 | -0- | 44109504.04$ | 44,109,504.04 $ |
| تر اوسه ټولی نغدی مرستی | 63,271987.71$ | | |
| | | | |
| بیرنۍ انساندوستانه مرستی چی 16 هیوادونو تر سره او یا خو یی ژمنی کړیدی. | قطر د ژغورنی ټیمونو تر څنګ دوه بیایانی روغتونونه او د ۱۱۰۰۰کسانو لپاره بشپړه تابیا نیولی.لدی مرستی بیل دی.چین ۷میلیون ډالر مرستی اعلان کړیدی چی دنړیوال ستندرد له مخی یو ټن غیر طبی توکی تر ۱۵۰۰ډالرو محاسبه شویدۍ. | | 12342.227 MT متریک ټن<br>اټکلی ارزښت یی<br>24,331,840.0 $ دۍ. |

د پورته بسپنی ټول تفصیل پځانګړی لیست کی د کره شویو سرچینو له ذکر سره ترتیب او به په بیل مضمون کی به خپورشی. پدی هکله یو بل ټکی د یادولو وړ دۍ او هغه دا چی ډیرو افغانانو په یوازی ځان باندی نغدی مرستی هلته مخامخ په خلکو ویشلی او کوم لیست یی هم نشته دی پدی توګه حقیقی بسپنی ممکن له دی مرستو زیاتی وی.

د نوموړی طبعی ناورین په وړاندی نړیوال غبرګون محدود دی. د ملګرو ملتونو د مرستوغوښتل له یوی خوا ډیر څنډ من، له مبالغی ډک اوتشریفاتی وی، ټولی ګټلی پیسی یی په درنه بیروکراسۍ ،لوړو تنخوا ګانواو لګژری خرڅیږی. د نورو هیوادونو مرستی هم دهغوی د ټاکل شویواولویتونواوشرایطومطابق ورکول اومصرفیږی چی ډیرځله د زیانمنوخلکواومځکنیو ،ضرورتونو سره اړخ نه لګوی. مګرد هیواد والو د مرستواغیزمنتیا ډیره وی که پوره څیرنه پکښی وشی .دهمدی غمیزی په وړاندی د ټولو افغانانو مثبت غبرګون د ستایلو وړدی.پدی بسپنه کی د ټولنی هر پوړخلکود خپل توان په

اندازه د زړه له اخلاصه برخه واخیسته،دلته دا ټکۍ هم دیادولو وړدئ چی د هرات ولایت معیوبینو او دکابل ښار د کوڅی ماشومانو بسپنه که په سمبولیک ډول هم وه د ملی یووالی اوانسانی لوړی روحیی ښکاروندیی او تمثیل یی وکړ.

## د داسی طبعی ناورینونو سره د مقابلی لاری چاری:

دطبعی ناورینونو په ډله کی زلزله هغه ناورین دئ چی وړاند وییبنه یی له امکان څخه لیری بریښي.زلزله دسترګو په رپ او ځوځانیو کی ټول مړینه ،ټپیان، مالی زیان او ویجاړی منځته راوړی.کچیری د کنړ ۶.۲ریختړپه درجه منځنۍ کچی زلزله د اندونیزیا د ۲۰۰۴ کال دسمبر ۲۶ می د ریختر۹درجی ځواکمنی زلزلی ( سوماترا جزیری ته څیرمه د اندیمان سره د سمندر لاندی) سره پرتله کړو، نوموړی زلزلی دسمندری اوبو۳۰ متره لوړی سونامی څپی منځته راوړی او ټوله مرګ ژوبله د سونامی څپوله اړخه وه، کورونه د زلزلی لخوا څخه نه بلکه د سونامی ځواکمنوڅپوله کبله نړیدلی وو.بله یی هم د روان ۲۰۲۵کال د اګست میاشتی په دیارلسمه باندی د روسیی په کمچاتکا کی د ریختړپه کچه ۷.۴ درجی زلزله شویده ، اپیی سنټر یی تر مځکی لاندی ۳۹ کیلومتره ژور ووچی د کوم زیان راپوریی تردی مهاله ندئ ورکړل شوی.

په کمچاتکا کی تر دی مخکی د همدی روان کال د جولای ۲۵مه باندی پنځه نوری زلزلی هم پیښی شویدی چی ځواکمنه یی ۷.۴ وه.

مګر دلته همدی د منځنی کچی زلزله ډیره مرګونی او ویجاړوونکی ثابته شوه.

## نولاملونه یی څه دی؟!

- کچیری د زلزلی نه وروسته هغه ویدویی کلیپونه چی د هیوادوالو لخوا اخیستل او خپاره شویدی له مسلکی اړخه وکتل شی نو لاندی کمزورتیاوی له ورایه څرګندیږی.

**1 -** کورونه د غرونو په توندو لمنو یا د نریو غونډیو په سر، شاوخوا توندولمنو کی یوله بل سره داسی نیښتی جوړ شویدی چی د یوه کور بام د بل کور له غولی سره برابر دی.(غوره بیلګه یی د مزار د دری کورونه دی۳**).

**2 -** نیږدی ټول کورونه په نرمه او پسته خاوره باندی او په ځینی ځایونو کی د غونډیو په سر جوړ شویدی .په یوه ویدیویی کلیپ کی یوکورچی لاندینی برخه یی ټوله را ښوییدلی او تشه شوی وه هغه کور وروسته بیا په خلکو باندی را ونړید د همدی خبری کره ثبوت دی..

د کورونو په بنسټونو (تهداب) کی د ښوویو ډبرو او وچی سنګکاری څخه کاراخیستل شوی چی ډبری یی سکښتل شوی ندی یعنی ( Stone Facing) نلری کوم چی د بنسټ اصطکاک او مساحت زیاتوی او د دیوال فشارپه مځکه وویشی.

3- ډیر زیات دوه پوړیزه کورونه ټول د وچوډبرو څخه جوړ شویدی چې هیڅرنګه مساله پکی کارشوی نده.یوازی د دیوالو په برسیرنه برخه کی د لرګیو حلقه (رینګ) اچول شویدۍ چې هیڅ یو له بل سره ندی موښلول شوی او ازاد دی. چې د زلزلې په وخت کی یو او بل نه سره حمایه کوی، دلرګیودا بیمونه هر یو پخپل سر آزاد خوځښت لری او دا بیا مرګونی دۍ.

4- کوم کورونه چې له خټو هم جوړدی عمودی درځونه لری ،ډبرین بی مسالی سنګ کارۍ تهداب اودبنسټ د مځکی د نرمی له کبله د زلزلې په وړاندی هیڅ ټینګتیا (مقاومت ) نلری.

5- د کورونو بامونه دلرګیو اسکیلیټ اود درنوخټو پوښ لری همدا دلرګیو بیمونه په ازاده توګه د رینګ په سر پراته وی چې د زلزلې پوخت کی د ساختمان بام د نړیدوغوره لامل دۍ. ډیروختونه د چت لرګی بیا کمزوری هم وی چې د اندک فشار په واردیدلوسره ماتیږی.

6- پهمدی توګه د زلزلې په مهال دمځکی ښوییدنی ترځنګ دغرونو ډبری له پاسه د جاذبې قوی تر اغیز لاندی مخ په ځوړ را رغړی چې د لارو د بندیدو تر ځنګ ډیرځله کورونه هم ورانوی.

7- د ترانسپورتی لارو نشتوالی د مرګ ژوبلې یو بل لامل ګڼل کیدۍ شی ،د نوموړی ستونځی له کبله هلته مرستندونه ټیمونه په وخت نشی رسیدلی چې دټپیانو درملنه او روغتیایی مرکزونو ته یی ورسوی او تر خاورو خځلو لاندی خښ شوی انسانان په وخت راوباسی.

8- په کور د ننه د داسی پیښنو سره د مبارزی روزل شوی ټیمونه او د څرک لکولو وسیلې او داسی پیښنوته روزل شوی سپی ډیراړین دی چې نشته دی.

9- د ښځینه ډآکترانو او نرسانو کمښت بله غټه ستونځه ده چې د مرګ ژوبلې لامل ګرځي.

### څه کول په کار دی؟!

د دی سوال ځواب د پورته ذکر شویو نیمګړتیاوو په لیری کولو کی نغښتی دۍ.

**الف: د زلزلې په وړاندی د ټینګو اومقاومت کوونکوساختمانونوجوړیدل:** د طالبانو حکومتی چارواکو لره پکار ده چې د تجربه لرونکوساختمانی انجینرانویو ټیم تشکیل اودنده ورته وسپاری چې د سیمی دجغرافیایی جوړښت او دخلکو د پوهی،اقتصاد او سیمه ایزو ساختمانی موادو څخه په ګټی اخیستنی سره د دریوکوټو یو داسی ماډل (Module) کورپدی ترتیب سره ډیزاین کړی:

1 - دکور/ کوټي څلور کونجونو کی د لرګیو یا سیخ لرونکی کانکریټی پایی نصب شی. اړینه خبره: په هغو سیمو کی چی د څیړی،ناجو او ارچی ونو لرګی پریمانه ،ارزانه او د لاسرسی وړ وی ، یا خو هم د درنوپایو وړل هلته ستونځمن وی له لرګیو پایی او رینګ د ډیزاین کړی.که سیمی یا باندی ته د موټرو لاری موجودی وی هلته سیخ لرونکی کانکریټی ستندرد پایی ډیزاین او جوړی شی، او که دا هم نه وی نو د اوسپنیز  آی بیم پایی د ډیزاین کړی(پورتنی شکل). د یوه دری اطاقی کورد اسکیلیټ(Carcass) لپاره د ۸دانو ۴ متره لوړو ستنو(پایو)،۶ عدد ۴متره اوږد او ۴عدده ۳ متره اوږد رینګ بیمونو اړتیا ده. (په افغانستان کی د اوسیدو کوټی په رواجی توګه 4*3متره وی)

2 - نوموړی پایی که د لرګی او یا کانکریټو څخه وی نوپه سرونو کی بیا دافقی بیمونو سره د ټینګولو اړین ځایونه پکی مخکی جوړ وی تر څو افقی بیمونه (رینګ) له پایو سره ټینګ وموښلول شی او هر یو ځانته حرکت ونلرید لرګینو بیمونو لپاره اوسپنیز ګسیټونه (Gusets)،د کانکریټی ستنو او رینګ لپاره خاص سوری ډیزان شی.پدی ترتیب سره به د کوراسکیلیټ (کرکاسCarcass) جوړاو دزلزلی په وړاندی به مقاومت ولری.پهمدی اخرینی حیصه یا رینګ کی باید د چت د لرګیود ټینګ ترلو لپاره هم سیستم موجود وی، کچیری رینګ کانکریټی وی په عرضانی رینګونو کی چی ۴متر طول لری پس له هر نیم متر وروسته د رینګ له مغز نه یو ۱۴ملی سیخ را وتلی وی چی د چت لرګی له هغو سره د ۶ملی سیم پوسیله ټینګ وتړل شوی نو د چت لرګی به د زلزلی پوخت ټول یو شان مقاومت او غبرګون ولری او چت به نه نړیږی.

3 - تر ټولو مهمه خبره دا ده چی د ساختمان مځکه باید سخته وی نرمه خاوره بیخی ځنی لیری شی او هغه بیا تخته شی دهماغه محلی تکنالوژی (د غوړیو د اوسپنیز دبلی کمپکټر) څخه کار واخلی ،په خاوره کی د یوڅه شګه ورګډه کړی چی مځکه سخته شی. ډیرمهم د ستنو/پایو د درولو ژوروالی دی ،د سیمی اعظمی یخنی ته په کتو باید یو متر ژور وی. پدی تر تیب دپایو جګوالی ۴ مترو ته رسیږی چی یو متر یی په مځکه کی ننوزی.

4 - بل اړین یادون د ساختمانی ډبرو دی چی اول خو ډبری باید رسوبی نه وی (سیلانس یا شیست ډبری په ساختمان کی نه کارول کیږی) ، دوهم نوری ډبری لکه ګرانیت، کوارتزیت، مرمر.ګبرو ....او نور باید وسکښتل شی ترڅو هواره سطح یی ډیره او اصطکاک یی زیات شی چی د دیوال د وزن فشار په مځکه مساوی وویشی او مساله ورسره حتمی ده.

5- کچیری خښتي کاروی نوبهتره ده چی (Adobe Brick) څخه کار واخلی، دا خښتي په اورنه پخیږی ،مقاومت یی هم زیات دئ او کار وربادندی ډیر ژرمخ په وړاندی ځی.محترم انجینر صاحبان د د نوموړی خښتو د تولید لاره لیکه کلیوالو ته د یوه لارښود په ترڅ کی واضح کړی.

6- نو د چارو مسولین باید د ساختمانی تجربه لرونکو انجینرانو یوه پیاوړي ټیم ته نوموړی دنده ور وسپاری چی داسی یو ماډل کور ډیزاین او برآورد کړی.کوم بهرنی یا کورنی ډونران چی غواړی خلکوته د کورونوپه جوړولو کی مرسته وکړی همدا ډیزاین د هغوی ته ورکړی قیمت به یی هم مالوم وی. او کچیری داخلی ډونران لکه ښاغلو میرویس عزیزی او عبدالرحمن الکوزئ چی د زړه له تله یی مرسته اعلان کړی نودا پایی او رینګونه مخکی تولید کولی شی او یوازی یی سیمی انتقال پاته کیږی.

## ب- د ناورین مدیریت

په نړئ کی ټول هیوادونه د طبعی پیښو په وړاندی د مقابلی پیاوړی، مسلکی او مجهزی اداری لری چی د داسی پیښو په وړاندی چټک غبرګون ښيي او ځنی وختونه د ناورین د پراختیا په نظر کی نیولو سره د ناورین ځانګړی کمیته (Crisis Special Cell) جوړوی چی اولویتونه ټاکی او نړیوالی بسپنی اومرستندویان همغږی کوی. افغانستان هم د پیښو د مدیریت ملي اداره (ANDMA - Afghanistan National Disaster Management Authority) لری. لدی طبعی ناورین سره مقابله د همدی اداری مسولیت دی.په اوسنی ناورین کی د نوموړی اداری لپاره ښایی چی:

1- د ټولو بسپنه ورکونکو هیوادونو،موسسو اویو کسیزه ( انفرادی) بسپنه ورکوونکوکسانو لپاره ځانګړی بانکی حساب اومالوماتی بانک (Database) جوړکړی.
2- په زیانمنو شویو سیموکی د مرستو د مدیریت او لومړیتوبونو لپاره د کلیواو باندو کمیټی جوړی کړی او هغوی ته د زیان د کچی مالومولو او لومړیتوبونو دنده وسپاری.
3- د زیانمن شویو سیمو او اوسیدونکو اولویتونه تعین کړی.
4- د بسپنی ورکونکو ټولنو او یو کسیزو لویو مرسته کوونکو کنفرانس را وغواړی. د کنفرانس په ترڅ کی هغوی ته د زلزله ځپلو سیمو مالومات، د ویجاړی کچه او د اړتیا لیست برابر او وړاندی کړی.
5- د ځپل شویو سیمو د ویجاړئ کچه په عددی بڼه تعین کړی. څرنګه چی د نړئ هیوادونه له افغانستان سره مخامخ دیپلوماتیکی اړیکی نلری نو خپلی بسپنی مرستندویه موسسو

یا دملګرو ملتونو ادارو ته ورکوی. طالب چاروا‌کی باید له مرستندویه موسسو سره اړیکی ونیسی ، کنفرانس ته یی راوغواړی او د کنفرانس په ترځ کی دزلزلی څخه د راولاړی شوی ویجاړی کچه د اولویتونو سره په تفصیل د بصری سلایډونو او ویدیو کلیپونو په مټ تشریح کړی (پریزینتیشن). د کنفرانس جوړول لدی ټولنو سره حیاتی ارزښت لری.

6- د مسلکی تجربه لرونکو انجینرانو د یوه ټیم لخوا د یوه داسی (لږتر لږه دری اطاقه ۴*۳مترو) کور ډیزاین چی اقتصادی او د سیمی له موادومحصولاتو څخه په کارونی جوړیږی لکه همدا مخکینی څپرکی کی یی تشریح شویده ډیزاین، برآورد او کړنلاره یی جوړه کړی،بیا هغه له ډونرانو سره شریکه کړی.

د بسپنی د لیست مطابق تر اوسه پوری ټولټال 63,271987.71$او 12342.227 MTمتریک ټنه

اټکلی ارزښت یی 24,331,840.0 $ دی افغانی لوری ته ورسپارل شوی یاخو یی ژمنه شویده. دا لوی رقم دی کچیری په صحیح او شفافه توګه مدیریت شی دزلزلی څخه په سیمه کی را ولاړی شوی ټولی ویجاړی وربادی جوړیدای شی.

7- بله اړینه خبره دغه ده چی لدی مرستو څخه د غذا /نغدی د کار په مقابل کړنلاری کار واخیستل شی ،د کلیواو بانډو تر منځ د سرک جوړولو کار وربادی بشپړکړی چی د خدای مکړه نوروداسی پیښنو په مهال سیمی ته لاسرسی آسانه شی. په درنښت.

اخځلیک:

(*۱)New Humanitarian https://www.thenewhumanitarian.org/report/88732/afghanistan-family-related-determinants-poverty?utm_source=chatgpt.com

(*۲)https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%B1%D8%AF%D9%87:%D8%B2%D9%85%DB%8C%D9%86%E2%80%8C%D9%84%D8%B1%D8%B2%D9%87%E2%80%8C%D9%87%D8%A7%DB%8C_%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86

Preliminary earthquake hazard of Afghanistan (USGS/USAID)

(**۳)

دا د مزار درې اریت کلی و
چې اوس په مکمله توګه له منځه تللی





www.dawatmedia24.com